# برداشت


## دانبیائے کرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام سنئت دي

**05-December-2024**

هفته وراه د سُنّتو دکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنّتو دک بيان

(for Islamic Brothers)



پۀ 5 دسمبر کال 2024ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 2 جمادي الاخرىٰ، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# برداشت د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ الصلوٰةُوَالسَّلام سنَّت دي

پہ دې بيان کښې بہ تاسو زده کړئ...

- ... داتا حُضُور روحاني مدد اوفرمائيلو...؟
- ...د داتا حُضُور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه لنډه پيژندګلو
- ... پہ دعوتِ اسلامي باندې د اوليائے کرامو کرم
- ... پہ پوکو بہ دا ډيوه مړه نه کړے شي
- ... دعوتِ اسلامي او د اوليائے کرامو نقشِ سيرت

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبہ بياناتِ دعوتِ اسلامي)

# برداشت د انبيائے کرامو عليهم الصلوة والسلام سنّت دي

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د ښهٔ وخت انتظار هم عبادت دے
- ...حِلم د الله پاک سُنَّت دے
- ... تر څو پورې به برداشت کوو؟
- ... د صبر انعام

پيشکش
اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه: بياناتِ دعوتِ اِسلامی)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، پۀ صفحه: 12، حديثِ پاک نمبر: 12 دے:

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

لَيَرِدَنَّ الْحَوْضَ عَلَيَّ اَقْوَامٌ مَا اَعْرِفُهُمْ اِلَّا بِكَثْرَةِ الصَّلَاةِ عَلَيَّ. [1]

ترجمه: پۀ حوضِ کوثر به ما ته داسې قومونه ميلاويږي کوم چې به زۀ هُم د ډير زيات درودِ پاک لوستلو پۀ وجه پيژنم.

ذاتِ والا پہ بار بار دُرود | بار بار اور بے شمار دُرود
ہے کرم ہی کرم کہ سنتے ہیں | آپ خوش ہو کے بار بار دُرود [2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے. [3]

---

[1]...القول البدیع، صفحہ:264۔
[2]...ذوقِ نعت، صفحہ:67۔
[3]...بخاری، کتاب بدءالوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښينم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## لورې...!! ويريږه مهٔ ...!!

صحابئ رسول حضرت مُنِيب اَزدِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د اِسلام قبلولو نه مخکښې ما د **الله** پاک اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وليدلو، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګير چاپيره خلق راجمع وو، هغوئي فرمائيل: اے خلقو! لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ووايئ! او کاميابي بياموئ...!! خلقو به (د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ صفا او رښتينو خبرو باندې د غور کولو او د اِسلام قبلولو سره د دوزخ نه د ازادئ موندلو پهٔ ځائے اُلټا) ظلمونه کول. مَعَاذَالله! چا به پهٔ رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې خاورې ورويشتلې او چا به ورته کنځلې کولې. تر ماسپښينه پورې هم دغه معامله وه. بيا چې کله ټول خلق اخوا ديخوا لاړل نو يوې زنانه پهٔ غټ جام کښې اوبه راوړلې او پهٔ خدمت کښې حاضره شوه او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ يے ووينځلو. ما هلته د موجودو خلقو نه د هغې زنانه پهٔ باره کښې پوښتنه وکړه نو هغوئي وه وئيل: **دا د هغوئي (يعني د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) لور زينب ده.** (1)

داسې يوه واقعه د حضرت حارِث بن حارِث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت ده، پهٔ دې کښې دا هم دي چې کله خلق اخوا ديخوا لاړل نو حضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا پهٔ ژړا حاضره شوه، د

1... معجم کبير، جلد:9، صفحه:70، حديث:17193 ملتقطاً.

هغې پۀ لاس کښې د اوبو يو جام او رومال وو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جام واخستو او اوبه يـې وڅښلې او اودس يـې وکړو، بيا يـې سر مبارک راپورته کړو او بي بي زينب رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهَا ته يـې وکتل او وئې فرمائيل: **لورې! هيڅکله هم دا ويره مۀ کوه چې دا خلق به ستا پۀ والد باندې غالب شي.** (1)

| | |
|---|---|
| کوئی گالی سناتا تھا، کوئی پتھر اُٹھاتا تھا | کوئی توحید پر ہنستا تھا، کوئی منہ چڑاتا تھا |
| مگر وہ منبعِ حِلْم و صفا خاموش رہتا تھا | دُعائے خیر کرتا تھا، جفا وظلم سہتا تھا(2) |

## صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!    صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اللّٰه پاک پۀ لاره کښې تکليفونه برداشت کول سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** تاسو وکتل چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِسلام د پاره څنګه څنګه تکليفونه تير کړي دي! دا هر څۀ پۀ ښکاره د نيکۍ د دعوت شروع کولو نه پس وشول. ځکه چې کله هم چا ته د نيکۍ د دعوت ورکولو او د هغې پۀ وجه څۀ تکليف تيرول راشي نو د مکي مَدَني آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِسلام د تبليغ پۀ لاره کښې تير کړي تکليفونه دې رایاد کړي او د **اللّٰه** پاک شُکر دې ادا کړي چې **اللّٰه** پاک هغوئې ته د دِين د پاره د سختو برداشت کولو د سُنَّت ادا کولو سعادت عطا کړو. دغه شان به اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! شيطان ناکامه او نامُراده کيږي او صبر کول به اسان شي.

يقيناً چې د خُدائے پۀ لاره کښې تکليفونه برداشت کول هم **سُنَّت** او پۀ دې باندې صبر کول هم **سُنَّت** او د ډيرو سختو برداشت کولو باوجود د نيکۍ د دعوت سلسله جاري

---

1... معجم کبیر، جلد:9، صفحہ:382، حدیث:18485 مفہوماً۔

2... شاہنامۂ اسلام، حصہ:اول، ص118 ملتقطاً۔

ساتل هم **سُنَّت** دي. [1]

سنّتیں عام کریں، دین کا ہم کام کریں | نیک ہو جائیں مسلمان مدینے والے!

## د مَحبُوبِ کریم صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم اطمينان

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم د پاک سيرت چې دا کومه واقعه مونږه واوريدله، پهٔ دې واقعه کښې د زدکړې د پاره يوه اهمه خبره تاسو ته معلومه ده چې څهٔ ده؟ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم اطمينان، نيک اُميد او د دې خبرې رښتونے او پوخ يقين چې يوه ورځ به راځي چې اِسلام به غالبه کيږي. څومره د کمال خبره ده...!! ❁ خلق د نبي کريم صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم نه ګير چاپيره راجمع دي ❁ هغوئي يـې پوهه کوي ❁ د جنَّت طرف ته يـې رابلي او مخامخ خلق **مَعَاذَالله!** ❁ ګستاخياني کوي ❁ څوک کنځلې کوي ❁ څوک يـې پهٔ پاک بدن باندې خاورې وراچوي، د دې باوجود چې کله شهزادګی صاحبه حضرت بي بي زينب رضی اللہ عنہا پهٔ ژړا حاضره شوه، نبي کريم صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم څومره پهٔ يقين او اطمينان سره فرمائي: **لورې! هيڅکله دا ويره مهٔ کوه چې دا خلق به ستا پهٔ والد باندې غالب شي.**

لکه چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم د دې سفر نتيجه ليدله، هغوي ته معلومه وه چې ❁ دا د لارې شروع ده ❁ اخر به دا مشکلات ختم شي ❁ دا د تکليفونو ورځې به انجام ته ورسي ❁ بيا به هغه وخت هم راشي، چې پهٔ هره ژبه باندې به د **لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله** اوازونه وي، خلق به پهٔ **مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله** باندې ځانونه هم قربانوي.

اگرچہ لوگ آج اسلام پر ایماں نہیں لاتے! | خدائے پاک کے دامانِ وحدت میں نہیں آتے!
مگر نسلیں ضرور ان کی اسے پہچان جائیں گی | درِ توحید پر اک روز آکر سر جھکائیں گی [2]

---

[1] ...بھیانک اُونٹ، صفحہ:6-

[2] ...شاہنامہ اسلام، حصہ اوّل، صفحہ:138-

## تسلي ورکوونکے آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته د زدکړې يوه بَله خبره عرض کوم، عام طور چې کله انسان په سخته کښې وي...!! مثلاً ❁ په کاروبار کښې نقصان وشي ❁ غلا وشي ❁ په څۀ کار کښې ناکامه شي ❁ په سکول کښې فيل شي ❁ يو مضمون مو فيل شي ❁په څۀ معامله کښې مشکلات راشي. دلته اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عاشقانِ رسول د نيکۍ دعوت ورکوي، په مَدَني قافلو کښې سفر کوي، بعضې وخت په دې لاره کښې مشکلات راځي ❁ د خلقو پيغوررونه اوريدل وي، اوس په داسې موقع باندې څۀ کيږي؟ خلق مونږ له تسلي راکوي، مثلاً ❁ وګوره وروره! مشکلات د ژوند حصه ده ❁ مۀ ويريږه، هُم د سختې سره اسانۍ وي ❁ په زړۀ دا غم مۀ اخله! اللّٰه پاک به خير کړي.

خو دلته معاملې ته وګورئ! تکليف خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته رسيدلے دے، خلق ترينه انکار کوي، آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير خواهش لري چې خلق کلمه ووائي او د جنَّت حقدار جوړ شي خو خلق اُلټا ګستاخياني کوي، دلته د عام دستور مطابق پکار خو دا وه چې چا نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له تسلي ورکړے وے خو قربان شم! دا ټولو ته د تسلۍ ورکولو والا خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، دا زړونو ته اُميد ورکوونکے کريم دے، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړۀ نه دومره مطمئين دے چې شهزادګۍ صاحبې له تسلي ورکوي چې لورې ويريږه مۀ! زما زړۀ هم مطمئين دے، تۀ هم مطمئين اوسه! دا سخت وخت دے، تير به شي، بيا به اللّٰه پاک اِسلام ته غلبه او عروج عطا کړي.

## د بنۀ وخت انتظار هم عبادت دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا چې د زړۀ کوم اطمينان او سکون دے، افسوس

چې دا دلته ختمیږي، مونږه ډیر زر حوصله بائیلو، دا ډیره باریکه او د ځان پوهه کولو خبره ده، په دې دُنیا کښې چې کوم کارونه هم دي، د هغې یو وخت مقرر دے. په قرآنِ کریم کښې د **الله** پاک ارشاد دے:

**لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ ﴿۳۸﴾** (پارہ:13، سورۂ رعد:38)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: د هرې وعدې د پاره یوه لیکلے شوې (نیټه) ده.

یعنې دا خبره د **الله** پاک په نزد ټاکلې ده چې کوم کار څنګه او کله پوره کیدل دي. [1]

د بعضې کارونو وخت خو مونږه هم مقرر کړےوي، د دې سره سره یو وخت هغه دے، کوم چې **الله** پاک مقرر کړے دے، مونږه د هُغه وخت د پوره کیدو انتظار نه کوو، هم د هغې نه مخکښې تنکیږو ❁ مونږه په اِشاره کښې ولاړ یو، دا راته معلومه ده بلکې د اشارې سره وخت هم لګولے شوے وي، سیکنډونه روان وي، مونږه ورته ګورو هم خو بیزاره کیږو، یو دوه منټه مونږه انتظار نشو کولے ❁ چرته که ټریفک جام شي، دا راته معلومه وي چې ټریفک به هم په خپل وخت باندې روانیږي خو انتظار نه کوو، په هارن پسې خلق بس هارنې وهي، د غصې نه مو لاسونه او ښپې رچیږي، بعضې خلق خو بس دننه سوزي، خلقو ته بدې ردې وائي او بعضې نادانه خو کنځلې هم کوي ❁ داسې که ناروغه شو، د دې بیمارۍ نه به څهٔ وخت شِفا میلاؤیږي، دا د **الله** پاک سره مقرر دي، که مونږه ګیلې کوو یا صبر کوو، شِفا به هم په خپل وخت میلاؤیږي ❁ که میټرک کول وي نو نرسرۍ، پرې نسرۍ، پریپ وغیره هر څهٔ چې شامل کړې نو په عامو حالاتو کښې 12، 14 کاله خو لګي، زما به خومره کلونه لګي، دا خبره د **الله** پاک سره مقرر ده، ممکنه ده چې په قِسمت کښې دوه ځله فیل کیدل لیکلے شوي وي، وخت مقرر دے، مونږه انتظار نه کوو ❁ کاروبار مو شروع کړو، په دې کښې به ترقي کله میلاؤیږي، د **الله** پاک سره

1... تفسیر نظم الدرر، پارہ:13، سورۂ رعد، زیر آیت:38، جلد:4، صفحہ:160۔

وخت مقرر دے خو زمونږه دا ذهن وي چې نن مې دکان جوړ کړو، کاروبار مې شروع کړو، سبا به د لکونو روپو امدن شروع شي.

نور هم داسې سوچ وکړئ! ډير مثالونه به درته رامخې ته شي، د وينا مقصد مې صرف دا دے چې دا کوم د بيزاره کيدو حالت دے، د څۀ کار د پوره کولو د پاره، پۀ يو سفر کښې منزل ته د رسيدلو د پاره، پۀ څۀ معامله کښې د کاميابۍ پۀ پوره‌ې د ختلو د پاره چې کوم وخت مقرر وي، مونږه د هُغه وخت نه مخکښې د تنګيدو ښکار کيږو، بيا دا تنګيدل د بے صبرۍ ذريعه جوړه شي، بيا دا بے صبري مونږه د ناکامۍ سره مخ کړي. ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه دا تنګيدل د ځان نه ختم کړو، چې کله دا تنګيدل ختم شي نو صبر به هم راشي، برداشت به هم راشي او د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! کاميابۍ هم نصيب شي.

ډير ښکلے **حديثِ پاک** دے، خوږ نبي، ښتوني نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اَفْضَلُ الْعِبَادَةِ اِنْتِظَارُ الْفَرَجِ **يعني د ښۀ وخت انتظار کول افضل عبادت دے.** (1)

سُبْحٰنَ الله! ❁ اشاره بنده دہ، پۀ مونږ تادي دہ، صبر وکړئ! ثواب به مو کيږي ❁ غريبي راغله، تنګدستي راشي، د صبر سره د پراخۍ انتظار وکړئ! ثواب به ميلاؤيږي ❁ بيمار شوئ، د صبر سره د شفا انتظار وکړئ! ثواب به ميلاؤيږي ❁ پۀ امتحان کښې ناکامه شوئ، بَل ځل ښه ډير محنت وکړئ او امتحان ورکړئ! د صبر سره د کاميابۍ انتظار وکړئ! ثواب به ميلاؤيږي ❁ حالات بے قابو شول، د صبر سره انتظار کوئ! ثواب به ميلاؤيږي. غرض دا چې چې څۀ مشکل هم دے، پريشاني دہ، د ناکامو سره مخ يئ، صبر وکړئ! د صبر سره د ښۀ وخت انتظار وکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ثواب به ميلاؤيږي.

---

1...ترمذی، کتاب الدعوات، باب فی انتظار الفرج...الخ، صفحہ:817، حدیث:3571 ملتقطاً۔

## د مؤمِن حال عجيبه دے...!!

پۀ حديثِ پاک کښې دي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د مؤمِن حال عجيبه دے، د هغۀ هم ټوله معامله د خير والا ده، کله چې هغۀ ته خوشحالي ميلاؤيږي نو په شُکر کولو ثواب ګټي، چې کله پرې مشکل، پريشاني، مصيبت راشي نو په صبر کولو ثواب ګټي. [1]

چُپ رِه سِيُں تَا مَوتِي مِلۡ سَنۡ، صَبۡر کَرِيُں تَا پِيُرے
پَاګَلَاں وَانۡګُوں رَوۡلَا پَاوِيُں، نَه مَوۡتِي نَه پِيُرے

**وضاحت:** که چرې پۀ تکليفونو باندې د خاموشۍ سره صبر کوې نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! ثواب به هم ميلاؤيږي او انعام به هم، او که د بے صبرۍ نه دې کار واخستو نو تکليف تلل خو څه کے بلکې اُلټا به ثواب هم د لاس نه لاړشي .

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## نظر پۀ خُدائے ساتئ...!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه حديثِ پاک واوريدو، اَفۡضَلُ الۡعِبَادَةِ اِنۡتِظَارُ الۡفَرَجِ يعنې د ښۀ وخت انتظار کول افضل عبادت دے.

د حيرانتيا خبره ده، دې انتظار ته افضل عبادت ولې وه وئيلے شو؟ امام ترمذي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د دې لوئي ايمان تازه کوونکے حکمت ليکلے دے، فرمائي: کوم بنده چې د صبر سره، د زړۀ د اطمينان سره د ښۀ وخت انتظار کوي، د هغۀ نظر پۀ اصل کښې پۀ ظاهري اسبابو نه وي، د هغۀ نظر پۀ مُسَبِّبُ الۡاَسۡبَاب (يعنې د اسبابو پۀ جوړونکي رَبِّ رحمان) باندې

[1]... مسلم، کتاب الزھد والرقائق، باب المؤمن امرہ...الخ، صفحہ:1144، حديث:2999۔

وي، او دا خبره (يعني نظر د اسبابو نه د اړول او مُسَبِّبُ الۡاَسۡبَاب ته کول) د کامِل ايمان نخښه ده، ځکه يې وفرمائيل: د صبر او تحمل سره د ښۀ وخت انتظار کول افضل عبادت دے. (1)

## د درد احساس ورته اونه شو

حضرت رابعه بصريه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡهَا کومه چې د خپل وخت ډيره نيکه کامِله وَلِيّه ده، ډيره د اوچتې مرتبے والا ده، يو ځل ناځاپه د چرته نه خخته راپريوتله او د هغې سر پرې ولګيدو، سر يې مات شو، وينه ترينه روانه شوه.

اوس دلته چې کله داسي موقع وي نو بنده هيُ، هو خو کوي، د درد نه ډک اواز خو د خُلې نه ځي خو کمال ته وګورئ! د دې الله والو تعلق ته وګورئ د **الله** پاک سره يې څومره مضبوط تعلق وو، د حضرت رابعه بصريه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡهَا سر پۀ خخته باندې ولګيدو، سر يې مات شو، وينه ترينه بهيدله خو هغې پۀ دې باندې هيڅ منفي تأثُّر (ري ايکشن Reaction) ورنکړو. چا ترينه پوښتنه وکړه: آيا تاسو ته تکليف اونه رسيدو؟ اوئې فرمائيل:

خخته راپريوتې ده نو د **الله** پاک پۀ اراده باندې، زما سر پرې ولګيدو نو هم د **الله** پاک پۀ اراده باندې يعنې د خختې راغورځيدل دا خبره بيانوي چې د **الله** پاک اراده زما متعلق وشوه ، پۀ دې خبره باندې زه دومره خوشحاله شوم چې د تکليف طرف ته مې هډو پام نشو. (2)

جے سوہنا میرے دُکھ وِچ راضی | تے میں سُکھ نوں چُلّے پاواں

وضاحت: که چرې **الله** پاک ته دا منظوره وي چې زۀ پۀ ازميښت کښې يم، بيا زما

---

1 ...نوادرُالاصول،الاصل السادس و الخمسون و المائة...الخ، جلد:1، صفحہ:423۔
2 ...الكواكب الدرية،الطبقة الثانية، حرف الراء، جلد:1، صفحہ:270۔

راحت ته هيڅ ضرورت نشته، زهٔ د **اللّٰه** پاک پهٔ رضا باندې راضي يم.

سُبۡحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلے شان دے د اللّٰه والؤ...!! د دې نه دا معلومه شوه چې ❁ که مشکل راشي ❁ که پريشاني راشي ❁ که تکليف راشي ❁ که غربت راشي ❁ که بيماري راشي ❁ چې څهٔ هم وي ❁ نظر پهٔ رَبِّ کريم باندې ساتئ! د برداشت کولو به هډو ضرورت نه راپيښيږي بلکې هم پهٔ تکليف کښې به مزه راځي.

## څهٔ چې رَبّ وغوښتل، هغه وشول...!!

حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ صحابئ رسول دے، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاص خادِم دے، هغوئي فرمائي: ما 10 کاله د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې تير کړل، پهٔ دې کلونو کښې يو ځل هم نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا اونه فرمائيل چې اے انَس! **دا کار دې ولې وکړو؟ نهٔ يې دا وفرمائيل چې دا کار دې ولې اونه کړو؟** [(1)] نور فرمائي: که چرې زما نه به څهٔ نقصان وشو، څهٔ لوښے وغيره به رانه پريوتلو او مات به شو، پهٔ دې باندې به که چرې پهٔ کور کښې زهٔ چا رټلم نو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به فرمائيل: دا پريږدئ! فَاِنَّهٗ لَوْ قُضِيَ شَيْءٌ لَكَانَ که نور څهٔ پهٔ قِسمت کښې وو هغهٔ به کيدل. [(2)]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! دا ډيره د کمال خبره ده، زمونږ پهٔ کورونو کښې پهٔ دې خبرو باندې ښه ډيرې جګړې کيږي ❁ د ماشوم د لاس نه که لوښے پريوځي او مات شي، پهٔ دې باندې مئيندې غصه کيږي، مور پلار رَټل شروع کوي ❁ که پهٔ غلطئ سره چائے د لاس نه وغورځيږي او پهٔ جامو باندې پريوځي نو بيا سم قيامت راځي، که څهٔ فنکشن وغيره وي،

---

1...بخاری، کتاب الادب، باب حسن الخلق والسخاء...الخ، صفحہ:1504، حديث:6038۔
2...مکارم الاخلاق للخرائطی، جلد:1، صفحہ:203، حديث:71۔

پۀ هغې کښې داسې وشي نو بعضې وخت هم پۀ دې وجه ټول فنکشن خراب شي، پۀ داسې وړه شان خبره باندې دومره غصه کولے شي چې ښه د خوشحالو نه ډک ماحول پرې غمژن شي ❀ که د ښځې نه څۀ غلطي وشي ❀ اینګولے ترینه وسوزي ❀ مالګه ترینه زیاته شي ❀ جامې د استرې کولو پۀ وخت وسوزیدلې ❀ د جامو پۀ وینځلو کښې څۀ کمے وشو، څۀ معمولي شان داغ پاتې شو. دلته پۀ داسې وړو وړو خبرو باندې هم پۀ کورونو کښې جګړې کیږي، جنګونه کیږي ❀ که د ګشر وړور نه څۀ غلطي وشوه ❀موټر سائیکل ترینه پریوتو ❀ څۀ لږ ډیر نقصان وشو ❀ ماشوم مو دکان ته لیږلے وو، د هغۀ نه پیسې چرته پریوتلې. بیا هغۀ ته هُغه رَدې بدې وئیلے کیږي چې د خُدائے پناه...!! ❀پۀ لاره باندې روان وو او د چا اوګه زمونږ سره ولګیدله، خلق ګوریدل شروع کړي، بعضې وخت خو پۀ دې باندې جګړه هم کیږي ❀چا زمونږه پۀ ښپه باندې ښپه کینښودله، برداشت کیږي رانه نه ❀موټر سائیکل والا د ګاډي سره وجنګیدو، بیا فوراً پۀ غصه کښې بریک ونیسو، ګیر چاپیره خلق هم متوجه شي چې څۀ وشول؟ د ګاډي والا د غصې نه مخ سور وي او د ګاډي نه راکوز شي، بیا چې پۀ سړک باندې څۀ کیږي، د **اللّٰه** پاک پناه...!!

داسې نورې ډیرې معاملې دلته زمونږ پۀ ژوند کښې عام طور کیږي، پۀ داسې معاملو کښې نظر په تقدیرساتئ ❀ چې مونږه دا منو چې د **اللّٰه** پاک د مرضیٖ نه بغیر پاڼه هم نشي خوزیدے نو چائے زمونږه پۀ جامو باندې څنګه توئیدے شي؟ ❀ د ګاډي لائیټ څنګه ماتیدے شي؟ دا تقدیر او پۀ دې کښې زمونږه امتحان اخستے کیږي چې مونږه پۀ دې باندې د صبر او برداشت نه د کار اخستو سره د ښه اخلاقو مظاهره کوو او ثواب ګټو که نه د بد اخلاقیٖ مظاهره کوو او د بد اخلاقیٖ ثبوت ورکوو. ځکه پۀ داسې وړو وړو خبرو باندې صبر کول پکار دي. که چرې مونږه تقدیر ته نظر وکړو، که چرې دا سوچ جوړ کړو چې د **اللّٰه** پاک اراده وشوه، نو دا تکلیف راورسیدو، که چرې **اللّٰه**

پاک نه غوښتلے نو هیڅکله به هم ما ته دا تکلیف نه رارسیدلو نو د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! برداشت کول هم اسان شي او مونږه به د ثواب حقداران هم جوړ شو.

## د برداشت د قوت نا اشنا مِثال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا کوم مثالونه چې مونږه عرض کړل او عموما دلته چې په کومو کارونوغټې غټې جګړې کیږي، دا خو ډیرې معمولي خبرې دي، په حقیقت کښې حِلم څۀ ته وئیلے شي؟ په اصل کښې برداشت څۀ څیز دے؟ راځئ چې زۀ تاسو ته یوه ښکلې واقعه بیان کړم. حضرت اَحنَف بن قَیس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تابعي بزرګ دے، یعنې هُغه خوش قِسمته دے چا چې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم د صحبت نه فیض حاصل کړے وو. هغوئې په حِلم کښې ډیر مشهور وو، د ډیر حِلم والا وو. یو ځل هغوئې په یو ځائے تیریدل نو چا هغوئې ته کنځل وکړل.

اوس دلته خو د یوې کنځلې په جواب کښې چې تر څو پورې 10 کنځلې نه وي شوې نو خلقو ته سکون نه میلاؤیږي خو دا تابعي وو، نیک بنده وو، چا ورته کنځلې وکړې، هغوئې هُغه طرف ته هډو توجه اونه کړه، په خپله لاره باندې روان وو. هُغه د کنځلو والا چې کوم کَس وو، هغهٔ وریسې شاته شاته روان دے. هغوئې د هغهٔ کنځلې اوریدلې، په خاموشۍ سره روان وو، چې کله خپلې قبیلې ته ورنزدې شو نو ودریدو. هُغه کَس ته یې مخ راوارړولو، اوئې فرمائیل: که چرې ستا په زړهٔ کښې څۀ باقي وي نو اوس یې ووایه ځکه چې زما په قبیله کښې زما سره محبت کوونکو که ستا خبرې واوریدلې نو کیدےشي چې تا ته به تکلیف ورسوي (ځکه چې خومره کنځلې کول غوارې، هم دلته ودریږه او اوئې کړه، زۀ یې اورم). د هغوئې دا خبره چې یې واوریدله نو هُغه کَس ډیر وشرمیدو او واپس لاړو. (1)

1... احیاء العلوم، کتاب ریاضۃ النفس، بیان علامات حسن الخلق، جلد: 3، صفحہ: 91 بتصرف۔

هسې که زمونږه د دي ماحول پۀ لحاظ سره وکتلے شي نو دا هم ډير د کمال حِلم دے، دومره برداشت څومره چې حضرت اَحنَف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کړے دے، د دې که چرې لس فيصده حصه هم زمونږه نصيب شي نو زمونږه پۀ معاشره کښې امن قائميدے شي، پۀ زړونو کښې محبت زياتيدے شي خو کومه چې د حيرانتيا خبره ده... هغۀ د دې نه مخکښې ده. واورئ! دا حضرت اَحنَف بن قَيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د چا چې خپل حِلم دومره اعلیٰ وو، د هغوئي نه چا پوښتنه وکړه: تاسو دا حِلم د چرته نه زده کړو؟ دومره برداشت پۀ تاسو کښې څنګه راغلو؟ اوئې فرمائيل: دا د صحابئ رسول حضرت قَيس بن عاصِم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د صحبت فيضان دے. هغوئي د ډير حِلم والا وو، يو ځل ما هغوئي وليدل چې هغوئي د کور نه بهر تشريف فرما وو، خلق د هغوئي نه ګير چاپيره راجمع شوي وو او هغوئي د خلقو سره خبرې کولې، ناڅاپه څۀ خلق د هغوئي خوا ته حاضر شول، د هغوئي سره د يو ځلمي مړے وو (يعني يو مړے د هغوئي پۀ اوګو پروت وو). ورسره هُم يو بَل ځلمے وو، د چا لاسونه چې تړلے شوي وو. اوس يې برداشت ته وګورئ. حضرت قَيس بن عاصِم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے. خلق راغلل او ورته يې عرض وکړو: حضورا دا چې کوم مړے زمونږ سره دے، دا د بَل چا نۀ دے بلکې ستاسو خپل زوي دے او دا د کوم کَس لاسونه چې تړلے شوي دي، دا ستاسو وراړۀ دے، ستاسو دې وراړۀ ستاسو ځلمے زوي وژلے دے.

حضرت اَحنَف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: حضرت قَيس بن عاصِم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله دا خبره واوريدله نو داسې د کمال حِلم يې وو، دومره د کمال قوَّتِ برداشت يې وو، هغوئي د خپل ځائے نه پورته هم نشو، هغوئي چې د خلقو سره کومې خبرې کولې (ظاهره ده چې صحابئ رسول دے، څۀ **حديثِ پاک** به يې بيانولو، څۀ دِيني مسئله به يې بيانوله نو) هغوئي هُغه خبره هم نيمګړې پرې نه ښودله بلکې پوره يې کړه. بيا يې د خپل دويم زوي

طرف ته مخ راواړولو، اوئې فرمائيل: د خپل ورور د پاره د کفن دفن تياري وکړه! بيا يې د خپل ورارهٔ طرف ته مخ راواړولو (هُغه ورارهٔ کوم چې د هغوئي زوي وژلے وو، هغهٔ ته يې) وفرمائيل: اے ورارهٔ! ستا نه ډيره غټه ګناه شوې ده (د دې نه توبه کړه!) او (ما خو تهٔ معاف کړې، البته) د مړي مور له دِيّت ورکړه او راضي يې کړه...!! حضرت اَحنَف رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: دې واقعې ما ته حِلم زده کړو. [1]

سُبۡحٰنَ الله! دا دے حِلم ...!! دې ته وئيلے شي: برداشت. کاش چې زمونږه هم برداشت کول نصيب شي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د حِلم تعريف او وضاحت

د حِلم معنیٰ ده: بُردباري(زغمل،برداشت)، نَرمي. اِمامِ غزالي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: چې انسان له غصه ورشي او هغهٔ د کوشش کولو سره، په تکلَف سره، نفس مجبوره کړي او غصهٔ قابو کړي نو دې عمل ته كَظمُ الغَيظ وئيلے شي، يعنې غصه ځښل، که چرې بيا بيا دغه شان د غصې ځښلو مشق وکړے شي، تر دې پورې چې داسې حالت جوړشي چې غصه هډو راځي نه او که چرې غصه راشي نو د دې پهٔ قابو کولو کښې د تکلف نه کار اخستل نه غواړي بلکې پهٔ اسانیٔ سره غصه قابو شي، دې حالت ته حِلم وئيلے شي. اِمامِ غزالي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نور فرمائي: د غصې ځښلو پهٔ نسبت حِلم ډير افضل دے، حِلم د عقل د کمال دليل دے. [2]

## حِلم د الله پاک سُنَّت دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حِلم د الله پاک سُنَّت هم دے. د الله پاک پهٔ ښکلو

---

1...الاستيعاب، جلد:3، صفحه:354، رقم:2164 بتصرف۔

2...اِحياءُ العلوم، کتاب ذم الغضب...الخ، بيان فضيلة الحلم، جلد:3، صفحه:218 ملتقطاً۔

ښکلو نومونو کښې يو نوم دے: حَلِيم. د **الله** پاک پۀ حق کښې د دې معنیٰ ده: **ګنهګارانو له مهلت ورکول، هغوئي فوراً نه راګيرول.** خلق څومره ګناهونه کوي، د **الله** پاک څنګه څنګه نافرماني کيږي. که **الله** پاک وغواړي نو زمکه چاودلے شي، دا نافرمانه پۀ زمکه ننوتے شي. د اسمان نه کاڼي راوريدے شي، تندر راپريوتے شي، د نافرمانه مخ ورانيدے شي، ښېې لاسونه يــې ماتيدے شي خو **الله** پاک د حِلم والا دے، هغۀ مهلت عطا کوي. پۀ قرآنِ کريم کښې ارشاد دے.

**وَ رَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ ؕ لَوْ یُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوْا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ؕ** (پارہ:15، سورۂ کہف:58)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او ستا رب ډير بخښونکے، رحم کوونکے دے. که هغۀ خلق د هغوئي د اعمالو پۀ وجه نيولے نو زر به يــې پۀ هغوئي عذاب راليږلے وے.

**پۀ تفسير صراط الجنان کښي دي:** پۀ دې آيت کښې د **الله** پاک د رحمت او مهلت بيان دے چې هغۀ ډير بخښونکے دے چې د کروړونو ګناهونو نه پس هم که څوک د بخښنې دروازه وډبوي نو هغۀ يــې بخښي او ټول عمر پۀ ګناهونو کښې د تيرولو باوجود هم که چرې څوک د ژوند پۀ اخري سعتونو کښې توبه کړي نو **الله** پاک هغۀ معاف کوي. دا د مغرفت شان هم دے او د رحمت شان هم، او د رحمت پۀ شان کښې دا هم دي چې هغۀ مهلت راکړے دے او پۀ عذاب ورکولو کښې تادي نه فرمائي بلکې د کُفر او ګناه باوجود خلقو ته د دُنيا رزق ورکوي. [1]

## حِلم د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دے

دغه شان حِلم چې دے، دا د **انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت** هم دے. څومره انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام چې دُنيا ته تشريف راوړلو، ټول حِلم والا وو، برداشت والا وو ❁ خلقو

[1]...صراط الجنان، پارہ:15، سورۂ کہف، زیرِ آیت:58، جلد:5، صفحہ:587۔

به ورته کنځلې کولې، انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام به برداشت کولې ❁ خلقو به تکليفونه ورکول، انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام به برداشت کول ❁ خلقو به رَدې بدې وئيلې، انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام به برداشت کولې. په **بُخاري شريف** کښې **حديثِ پاک** دے، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو نبي عَلَيهِمُ السَّلام ذِکر کولو ويـې فرمائيل: (هغوئي چې قوم ته د نيکۍ دعوت ورکړو نو) قوم هغوئي ته سخت تکليف ورسولو، تر دې پورې چې وينې ترينه رواني شوې، بيا هغوئي د خپل مخ مبارک نه وينه صفا کوله او وئيل يـې: اے **الله پاکه! زما قوم وبخښه، بے شکه دوئي نه پوهيږي.** [(1)]

اَللّٰهُ اَکْبَر! انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام چې کومه دُعا وکړي **الله** پاک فوراً هغه قبلوي، د چا په دُعا باندې چې عذاب نازليدے شي، غير مسلمه په زمکه ننوتے شي، دا تنګوونکي، تکليف رسوونکي په يو منټ کښې دننه مړه کيدے شول خو دا د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام حِلم وو چې په تکليفونو برداشت کولو هم وائي: اے **الله** پاکه زمونږه قوم وبخښې، په دوئي باندې عذاب مهٔ نازلوې.

## د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام د حِلم مثالونه

❁ حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام چا چې نهه نيم سوه [950] کاله تبليغ وکړو، د هغوئي په باره کښې راځي چې خلقو به هغوئي له تکليفونه ورکول، جسماني زور زياتے به يـې کولو، تر دې پورې چې هغوئي به بے هوشه شول خو چې کله به په هوش کښې راغلو نو وئيل به يـې: اے **الله** پاکه زما قوم وبخښه، بے شکه دوئي نه پوهيږي. [(2)] ❁ هم دغه شان حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام له نمرود کوم کوم تکليفونه ورکړل، مَعَاذَالله! هغوئي يـې بَل کړے شوي وور ته هم وغورځولو خو د هغوئي حِلم ...!! سُبْحٰنَ الله! په دومره سختو

---

1... بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، باب حدیث الغار، صفحہ:893، حدیث:3477۔

2... فتح الباری، کتاب احادیث الانبیاء، باب حدیث الغار، جلد:6، صفحہ:637، زیرِحدیث:3477۔

تکلیفونو هم هغوئي څهٔ کیله اونه کړه او نهٔ یې د قوم د پاره د تکلیف دُعا وکړه
❁حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام ته تکلیفونه ورسولے شول، هغوئي برداشت کړل، حِلم یې اختیار کړو ❁ حضرت هُود عَلَیْهِ السَّلَام ته تکلیف ورسولے شو ❁ حضرت شعیب عَلَیْهِ السَّلَام ته ورسولے شول ❁ حضرت لُوط عَلَیْهِ السَّلَام له تکلیفونه ورکړے شول ❁ حضرت زکریا عَلَیْهِ السَّلَام خو یې شهید کړو ❁ د حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام خِلاف سازشونه وکړے شول خو قربان شم! دا د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلَام پاک انداز دے، هغوئي له چې کوم تکلیفونه ورکړے شول، هغوئي به صرف د حِلم، حِلم او هُم د حِلم نه کار اخستو، یو نبي عَلَیْهِ السَّلَام هم نهٔ د تادیٰ نه کار واخستو، نهٔ یې د خپل ذات پهٔ خاطِر غصه وکړله بلکې د صبر او زغملو سره یې هر تکلیف برداشت کړو.

## حِلم د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دے

بیا که چرې د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حِلم مبارک خبره وکړے شي...!! واه! دلته خو شان هُم ځانګړے دے. رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته خو شان هُم د ټولو نه اوچت عطا کړے شوے دے. **الله** پاک فرمائي:

وَ اِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِیْمٍ۝ (پاره:29، سورۂ قلم:4)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه ته یقیناً پهٔ عظیمو اخلاقو یې.

خومره چې ښه اخلاق دي، خومره چې ښه صفتونه دي، نورو انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلَام ته چې خومره عطا شوي وو، د هغې نه ډیر زیات نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شول. حِلم هم رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د ټولو نه زیات عطا کړے شو. راځئ چې د رسولِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حِلم یو څو مثالونه واورو:

## (1): د اوښ خرڅوونکي سره حِلم

د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائِشه صِدِّيقه طيبه طاهره رَضِیَ اللہُ عَنۡھا نه روايت دے چې يو ځل مکي مَدَني، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يوباندېچي  نه د کجورو په بدل کښې يو اوښ واخستو خو چې کله د ادا کولو د پاره يې کور ته تشريف راوړلو نو کجورې موجودې نه وې. نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه باندېچي ته وفرمائيل: اے عبد الله! مونږه د کجورو په بدل کښې ستا نه اوښ واخستو خو د ادا کولو د پاره راسره کجورې موجودې نه دي.

دا يې چې واوريدل نو هغه باندېچي په زوره زوره چغې شروع کړې: هئ دوکه! هئ دوکه! صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم چې کله دا معامله وليدله نو د هغه باندېچي د وهلو د پاره يې رامندې کړې او اوئې وئيل چې ته د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره دا څنګه خبرې کوې؟ رحيم او کريم آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دا پريږدئ! دهٔ ته د خبرو حق دے. دا خبره رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه درې ځله ارشاد کړله. نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کجورو انتظام وکړو او هغه باندېچي ته يې عطا کړلې.

هغهٔ عرض وکړو: جَزَاکَ اللہُ خَیۡرًا **الله** پاک دې تاسو له جزائے خير درکړي تاسو ټوله حصه ډيره په ښه طريقه باندې عطا کړله. رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: په خلقو کښې بهترين هغهٔ دے څوک چې په ښه طريقه باندې ټوله حصه ورکوي. (1)

## په تجارت کښې ديانت اختيار کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** تاسو وکتل چې حضور اکرم شاهِ بني آدم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څومره معاف کوونکے او ډير شفيق او مهربانه وو. د ټولو په مخکښې يې د سودا نه د

1... سبل الهدیٰ والرشاد، جلد:7، صفحه:20۔

انکار الزام لګوونکے د بدل اخستو د طاقت او وَس لرلو باوجود معاف کړو او ښه سلوک یـې ورسره وکړو. د دې روایت نه مونږ ته دا سبق هم حاصل شو چې پۀ تجارت کښې د اخستو او خرڅولو پۀ وخت د حِلم، برداشت، رښتیاؤ او دیانت دارۍ نه کار اخستل پکار دي. پۀ سودا خرڅوونکي یا اخستونکي کښې که څوک هم تکلیف رسوونکې خبره وکړي نو د اخرت د پاره د نیکو د ذخیرې [جمع] کولو سره د صبر ګهوټ کول پکار دي. د جوابي کاروایۍ کولو او د جنګ جګړو سره سره پۀ خپل مینځ کښې د نفرتونو سبب هم جوړیدے شي. د بدو خبرو، د زړۀ ازارولو او د تورونو لګوونکو جملو وئیلو شکل کښې پۀ کبیره ګناهونو کښې د اخته کیدو هم اندیښنه ده. څکه مونږ له پکار دي چې پۀ داسې موقع باندې پۀ غصه کښې د راتللو، پۀ ترس نظر د نورو د ویرولو او د نۀ خبرې نه د خبرې جوړولو پۀ ځائے د صبر نه کار اخستل پکار دي چې دغه شان پخپله هم د ګناهونو نه بچ شو او د نورو د بچ کولو هم کوشش وکړو.

## (2): تا به زما نه څوک بچ کوي...!!

یو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم سره پۀ سفر باندې وو، پۀ یو ځائے کښې یـې دمه وکړله، صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم پۀ لږه فاصله کښې ایسار شول او خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یواځې د یوې وَنې لاندې تشریف فرما شولو، غیر مسلمه کوم چې به هر وخت محبوبِ خُدا، سردارِ اَنبیا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له د تکلیف ورکولو ناپاکه منصوبے جوړولې، پۀ دې کښې یو غیر مسلمه د چا نوم چې غَورَث وو، هغۀ ناڅاپه د چرته نه ظاهر شو، توره یـې راویستې وه، د بریښنا پۀ شان یـې توره څلوله او د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته راورسیدو او پۀ غرور او تکبر کښې یـې وه وئیل: مُحَمَّد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! وایه! اوس به تا زما نه څوک بچ کوي؟ محبوبِ رحمان، د دوارو جهانونو سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډیر

پهٔ اطمينان سره وفرمائيل: **اللّٰه**...!! (يعنې ما به **اللّٰه** پاک بچ کوي).

بس بيا څهٔ وو، د نبوت د شان د هيبت نه د هغهٔ د لاس نه توره پريوتله، بيا توره د محبوبِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مبارک لاس کښې وه، غَورَث يـې مخې ته وو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اوس تهٔ وايه...!! تا به زما نه څوک بچ کوي. غَورَث پهٔ ژړا ژړا وه وئيل: **اوس هم تاسو کرم وکړئ...!!** نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کمال حِلم وښودلو، هغهٔ يـې معاف کړو. [1]

څومره ښکلې خبره ده...!! غير مسلمو به هم د هغوئي پهٔ حِلم باندې څومره باور لرلو. اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه څهٔ ښه وئيلي دي:

کر کے تمہارے گناہ، مانگیں تمہاری پناہ | تم کہو دامن میں آ، تم پہ کروڑوں درود! [2]

پهٔ يو ځائے کښې يـې وفرمائيل:

چور حاکم سے چھپا کرتے ہیں یاں اس کے خلاف | تیرے دامن میں چھپے، چور انوکھا تیرا [3]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** څومره ځانګړے حِلم دے...!! خلق تکليفونه ورکوي، محبوبِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حِلم اظهار کوي، خلق ګناهونه کوي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دې باندې نه خفه کيږي، د خپل شفاعت پهٔ لمن کښې يـې اخلي او ګناهونه يـې هم بخښي او په **اللّٰه** پاک ورله جنَّت هم ورکوي.

## (3): ځئ! تاسو ټول ازاد يئ...!

منقول دي: پهٔ کومه ورځ چې مکه مکرمه فتح شوه، هٰغه وخت رحيم او کريم آقا

---

1...شفاشریف، الباب الثانی، الضرب الثالث، فصل فی الفرق بین الحلم...الخ، صفحہ:88۔
2...حدائق بخشش، صفحہ:271۔
3...حدائق بخشش، صفحہ:16۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مکي والؤ نه پوښتنه وکړه: اے قریشو! ستاسو څۀ خیال دے،چي زۀ ستاسو سره څنګه سلوک کوونکے یم؟ هغوئي عرض وکړو: نَظُنُّ خَيْرًا، یعني مونږه ستاسو نه هم د خیر طمع لرو، نَبِیٌّ کَرِيْمٌ وَ اَخٌ کَرِيْمٌ وَ ابْنُ اَخٍ کَرِيْمٍ وَ قَدْ قُدِرْتَ، تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کریم نبي یئ، کَرِيْمُ النَّفْس ورور یئ او زمونږه د کریم او مهربانه ورور زوي یئ او **الله** پاک تاسو ته په مونږ باندې قدرت عطا کړے دے، نو رحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائیلو: نن زۀ تاسو ته هُغه خبره کووم، کومه چي زما ورور یُوسف د خپلو ورونړو په باره کښې کړې وه، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آیت مبارک تلاوت کړو:

لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ؕ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ ۫ وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۹۲﴾

(پارہ:13، سورۂ یوسف:92)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: نن په تاسو هیڅ ملامتیا نشته، **الله** دې تاسو اوبخښي او هغۀ د ټولو مهربانو نه زیات مهربانه دے.

او اوئې فرمائیل: ځئ تاسو ټول ازاد یئ. (1)

## تر څو پورې به برداشت کوو...؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن سبا چي کله مونږه د حِلم خبره کوو، د معاف کولو خبره کوو نو خلق وائي: هُم ما له د صبر مشوره راکوئ، هُم ما ته د معاف کولو وایئ، هغه بل ګس ته هم څو وګوره کنه...!! هغۀ زما سره دا وکړل، زما سره یې هُغه وکړل، ما له یې دومره تکلیفونه راکړل...!! اخر چې بنده صبر کوي نو تر کوم وخته پورې به یې کوي؟ بنده چي برداشت کوي هُم نو څومره به برداشت کړي؟

کوم خلق چي داسې خبرې کوي، د هغوئي نه پوښتنه ده: ✿ آیا تاسو چا کوهي ته

---

1... سبل الهدیٰ والرشاد، جلد:5، صفحه:242۔

غورځولي يئ؟ ❁ آيا تاسو چا غلام جوړ کړي يئ او په بازار کښې يــې خرڅ کړي يئ؟ ❁ آيا د چا په وجه باندې تاسو د خپل مور پلار نه 30 کاله جُدا تير کړي دي؟ د اللّٰه پاک د نبي حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام سره دا هر څه وشول ❁ هغوئي کوهي ته هم وغورځولے شول ❁ هغوئي آقا وو خو هغوئي د غلام په طور باندې خرڅ کړے شول ❁ هغوئي بے ګناه وو خو په جيل کښې هم پاتې شو ❁ د والدِ محترم سره د ډير زيات محبت باوجود تر 30 کالو پورې د هغوئي نه جُدا هم پاتې شول، د دې هر څه باوجود په اخره کښې تاسو ته معلومه ده چې د هغوئي په خُله مبارکه باندې کومې جملې وې؟ د هغوئي ورونړه چې کله د هغوئي په مخکښې ملامته حاضر وو، هغوئي ويريدل چې پته نه لګي نن به زمونږ سره څۀ سلوک کيږي. حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام په ډير اطمينان سره وفرمائيل:

لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ؕ

(پاره:13، سورۀ يوسف:92)

ترجمۀ کنز العرفان: نن په تاسو هيڅ ملامتيا نشته.

سُبْحٰنَ الله! دا دے حِلم...!! دا دے برداشت...!! مونږ له پکار دي چې مونږه هم حِلم اختيار کړو، برداشت اختيار کړو، په غصه کښې ضد نۀ بلکې معاف کول او ثواب ګټل زده کړو.

## د حِلم په فضائلو باندې حديثونه مبارک

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ له هم حِلم اختيارول پکار دي!

❁حِلم والا د اللّٰه پاک خوښ او محبوب بنده جوړيږي ❁ فرښتے د حِلم والا مددګارې وي ❁ د حِلم والا تعريف کوي ❁ او حِلم والا انسان اوچتې درجے ته رسي ❁سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: 5 څيزونه د انبيائے

کرامو سُنَّت دي، پۀ هغې کښې يو حِلم دے. (1) ❁ پۀ يو **حديثِ پاک** کښې دي: بے شکه مسلمان د حِلم پۀ ذريعه باندې د ورځې د روژه نيوونکي او د شپې د عبادت کوونکي درجه بياموي. (2) ❁ سرکارِ عالي وقار، مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه **الله** پاک د حِلم والا خوښوي. (3) ❁ پۀ يو **حديثِ پاک** کښې دي: د قيامت پۀ ورځ به مخلوق جمع کولے شي، يو اعلان کولو به اعلان کوي: د فضل والا چرته دي؟ دا چې واوري نو څۀ خلق به راپاڅي او زر به د جنَّت طرف ته روان شي، فرښتے به د هغوئي نه پوښتنه کوي؟ تاسو زر زر د جنَّت طرف ته ولې ځئ؟ هغوئي به وائي: هم مونږه د فضل والا يو. فرښتے به ترينه پوښتنه کوي: ستاسو فضيلت څۀ دے؟ هغوئي به وائي: چې کله پۀ مونږ باندې ظلم کيدلو نو مونږه به صبر کولو، زمونږ سره چې به بد سلوک کيدلو نو مونږه به معاف کول او چې کله به زمونږ سره چا د جهالت والا سلوک کولو نو مونږه به د حِلم مظاهره کوله. (4)

| | |
|---|---|
| تُو عطا حِلم کی بھیک کر دے | میرے اخلاق بھی ٹھیک کر دے |
| تجھ کو فاروق کا واسطہ ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے (5) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بُردبارئ انعام

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې يو کَس پۀ بارګاهِ رسالت کښې عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ د خپلو خپلوانو سره صِله رحمي کووم خو هغوئي زما سره

1... معجم کبیر، جلد:5، صفحہ:324، حدیث:11282ملتقطاً۔
2... معجم اوسط، جلد:4، صفحہ:369، حدیث:6273ملتقطاً۔
3... سنن کبری بیہقی، کتاب: النکاح، باب: ماجاء فی قبلۃ الجسد، جلد:7، صفحہ:174، حدیث:13587ملتقطاً۔
4... شعب الایمان، باب: فی حسن الخلق، جلد:6، صفحہ263، حدیث:8086۔
5... وسائل بخشش، صفحہ:138۔

تعلق پرېږدي، زۀ د هغوئي سره ښه سلوک کووم خو هغوئي زما سره بد سلوک کوي، زۀ د هغوئي سره نرمي کووم خو هغوئي زما سره د جهالت سلوک کوي. نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: که معامله داسې وي څنګه چې يــې تۀ بيانوې نو ستا سره به د **الله** پاک د طرف نه يو مددګار وي تر څو پورې چې تۀ پۀ دې حال باندې يــې. (1)

معلومه شوه چې انسان تر څو پورې د صبر او بُردبارۍ او برداشت نه کار اخلي نو تر هُغه وخته پورې د **الله** پاک د طرف نه يوه مددګاره فرښته د هغۀ مدد کوي، لهذا اوس چې څوک وائي چې تر څو پورې به برداشت کوو؟ هغوئي له پکار دي چې تر هُغه وخته پورې برداشت کوي، تر څو پورې چې هغوئي د **الله** پاک مدد د ځان سره ساتل غواړي، چې کله دا ښکاره شي چې (مَعَاذَ الله! ) اوس د **الله** پاک د مدد ضرورت نشته، هُغه وخت دې برداشت کول هم پرېږدي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږه ته خو هر وخت د **الله** پاک د مدد ضرورت دے، تر مرګه پورې بلکې د مرګ نه پس هم ضرورت دے، څکه پکار دي چې تر اخري وخته پورې هُم برداشت کوو.

## ټول اَبُو ضَمضم جوړ شئ...!!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د بيان پۀ اخره کښې د خوږ محبوب آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ښکلے نصيحت واورئ! دا نصيحت زما د پاره هم دے، ستاسو د پاره هم دے، د زيد، عَمرو، بکر وغيره د ټولو د پاره دے. د دواړو جهانو سردار، رحمتِ عالميان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: آيا تاسو د اَبُو ضَمضم پۀ شان نشئ کيدے؟ صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم عرض وکړو: اَبُو ضَمضم څوک دے؟ اوئې فرمائيل: ستاسو نه پۀ مخکښينو خلقو کښې يو ګس وو، چې کله به سحر شو نو هغۀ به داسې وئيل: اے **الله** پاکه! ما د نن ورځې خپل عزت هُغه ګس ته صدقه کړو (يعني هغۀ مې معاف کړو)

1... مسلم، کتاب البر والصلۃ...الخ، باب صلۃ الرحم...الخ، صفحہ: 993، حدیث: 2558۔

څوک چې په ما باندې ظلم وکړي.[1]

څومره ښکلے نصيحت دے. چې مونږه هم خپل دا معمول جوړ کړو ❁ هره ورځ خپل عزت، خپل وقار، د خپل اوچت حيثيت رُعب، د خپلې عهدې او د څوکۍ غرور وغيره وغيره هٔغه ټول څيزونه کوم چې مونږه د بے صبرۍ او غصې د پاره راپارَوي ، هٔغه ټول څيزونه قربان کړو ❁ روزانه دا نيت وکړو چې يا **الله** پاکه! نن چې څوک څوک ما تنګوي، ما هغهٔ د مخکښې نه معاف کړو ❁ نن چې څوک څوک په ما باندې ګوتې اوچتوي، ما هغهٔ معاف کړو ❁ څوک چې هم نن ما ته پيغور کوي، ما هغهٔ معاف کړو ❁ څوک چې هم نن ما ته تکليف راکوي ❁ ما ته په بدنظر ګوري ❁ ما ته کنځلې کوي ❁ په ما پورې مَلَنډې کوي، اے **الله** پاکه! ستا د رضا د پاره ما ټول هُم د مخکښې نه معاف کړل.

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. کاش چې زمونږه د صبر، حِلم او د برداشت نعمت نصيب شي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| تُو عطا حِلم کی بھیک کر دے | میرے اخلاق بھی ٹھیک کر دے |
| تجھ کو فاروق کا واسطہ ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے[2] |

**صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د سلطان باهو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ذِکرِ خير

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! هر کال په ورومبي جُمَادَى الاُخۡرىٰ د سلطان العارفين، ولِيّ کامِل حضرت سخي سلطان باهو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه عرس کولے شي، راځئ چې په دې

---

1...شعب الايمان، باب: فی حسن الخلق، جلد:6، صفحہ 262، حديث:8082۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:138۔

مناسبت سره د هغوئي څهٔ ذِکرِ خير واورو ❁ د حضرت سلطان باهو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ولادت په رَمَضَانُ المُبَارَک کال 1039ھ شور کوټ (پنجاب، پاکستان) کښې وشو ❁ والدِ محترم يـې حافظِ قرآن، عالمِ دِين، نيک سيرته او د شريعت پابند وو او مور بي بي يـې د **الله** پاک وليّه وه ❁ سلسلهٔ نسب يـې پهٔ 29 واسطو سره د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت علي المرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته رسي ❁ تعليم او تربيت يـې د نيک سيرته مور بي بي پهٔ غيرِه کښې وشو ❁ د ژوند اکثره حصه يـې د مختلفو علاقو پهٔ سفر کولو او د **الله** پاک مخلوق ته د نيکۍ پهٔ دعوت ورکولو تير شوه ❁ **الله** پاک سلطان باهو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ته ډير تخليقي صلاحيتونه ورکړي وو، هغوئي تقريباً 140 کتابونه وليکل ❁ د سلطان باهو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د نصيحتونو نه ډکه د پنجابۍ شاعري ډيره مشهوره ده ❁ د 63 کالو پهٔ عمر کښې يـې د جمعې پهٔ شپه پهٔ وړومبي جُمادَي الأُخرىٰ کال 1102ھ باندې وصال وفرمائيلو ❁مزار مبارک يـې پهٔ قصبه دربارِ سُلطان باهو د مهاراجه ګړ سره نزدې (پهٔ تحصيل شور کوټ جهنګ، پاکستان) کښې دے. (1)

## صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب!　صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مَدَني قافله

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د اوليائے کرامو د فيضان موندلو، باکرداره او اخلاقي مسلمان جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ او د دعوتِ اِسلامي پهٔ 12 ديني کارونو کښې ښهٔ پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم! د دين او د دنيا بے شميره برکتونه به مو نصيب شي. پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **مَدَني قافله** هم ده.

---

1 ...ماہنامہ فیضانِ مدینہ، مارچ 2017، صفحہ: 41 ملخصاً۔

❀ بے شکه د نیکئ دعوت ورکول، پۀ دې لاره کښې سخته تیرول د انبیاؤ عَلَیھِمُ السَّلام سُنَّت دي، ❀ د دِين كار پۀ سختو تيرولو، پۀ قربانو وركولو كيږي ❀ انبيائے كرام عَلَيهِمُ السَّلام ❀ صحابۀ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم ❀ نيكان خلق به د نيکۍ د دعوت وركولو د پاره د خپلو كورونو نه وَتَل ❀ لرې لرې علاقو ته به تلل ❀ هجرت به يې كولو او سخته به يې تيروله او د دين پيغام به يې عام كولو ❀ د مخكښينو خلقو پۀ قربانو مونږ ته دِين رارسيدلے دے

❀ د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي هم پۀ دې لاره باندې روان دے ❀ پۀ ټوله دنيا كښې د دِين د پيغام عام كولو د پاره پۀ لكونو عاشقانِ رسول د مَدَني قافلو پۀ شكل كښې ملک ملک، ښار ښار، كلي كلي ته ځي او د نيكۍ دعوت عام كوي ❀ د مَدَني قافلو پۀ بركت باندې ډير كافران د كلمې وئيلو سره مسلمانان شوي دي ❀ د لكونو پۀ ژوند كښې د نيكو سپرلے راغلے دے ❀ اَلْحَمْدُ لِله! د 3 ورځو، 12 ورځو، يوې مياشت او د 12 مياشتو قافلې سفر كوي.

❀ تاسو هم پۀ مَدَني قافله كښې سفر وكړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! ډير بركتونه به مو نصيب شي ❀ پۀ مَدَني قافله كښې فرض عِلمِ دِين ښودلے شي ❀ سُنَّت ښودلے شي ❀ د تهجدو كولو سعادت ميلاويږي ❀ د نيكۍ د دعوت عام كولو موقع ميلاويږي ❀ د قافلې پۀ بركت سره د عاګانو پوره كيدو ❀ د سختو لرې كيدو ❀ د بيمارانو د شفا نصيب كيدو هم پۀ سوونو واقعات دي ❀ داسې هم شوي دي چې پۀ مَدَني قافله كښې د سفر كوونكو عاشقانِ رسول د ډاډګيرنې د پاره خوږ آقا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كرم فرمائيلے دے، پۀ خوب كښې يې تشريف راوړے دے او پۀ قافله كښې برخه اخستونكو له يې ديدن وركړے دے. چې مونږ پۀ مَدَني قافله كښې سفر وكړو نو څۀ پته چې پۀ مونږ باندې هم كرم وشي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي تر 15 دسمبر پورې ماهِ مَدَني قافله نمانځي، که کیدے شي نو تاسو هم کم نه کم د دریو ورځو پۀ مَدَني قافله کښې د سفر کولو نیت وکړئ! بلکې بهتره به وي چې هم اوس نیت ولیکئ! راځئ چې ستاسو د ترغیب د پاره تاسو ته یو مَدَني سپرلے بیان کړم.

## د باغ ځانګو

د حیدر آباد پۀ یوه محله کښې د علاقائي دورې د دعوت نه د متاثره کیدو سره یو ماډرن ځلمے جومات ته راغلو. پۀ بیان کښې پۀ مَدَني قافلو کښې د سفر کولو ترغیب ورکړے شو نو هغۀ پۀ مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره نوم ولیکو. د قافلې پۀ روانیدو کښې لا یو څو ورځې پاتې وې چې هُغه ځلمے وفات شو. پۀ کور والؤ کښې یو ګس هغۀ پۀ خوب کښې پۀ دې حالت کښې ولیدو چې هغۀ پۀ یو شین باغ کښې ډیر خوشحاله دے او پۀ ځانګو کښې ځانګي. خوب لیدونکي ترینه پوښتنه وکړه چې دلته څنګ راغلې؟ هُغه ځلمي جواب ورکړو چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره راغلے یم، **الله** پاک ډیر کَرم فرمائیلے دے، زما مور ته ووایه چې زما غم نه کوي، زۀ دلته ډیر پۀ سکون کښې یم.

| | |
|---|---|
| لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو |
| پاؤ گے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو |

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## "القرآن الکریم" ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن د ټیکنالوجۍ دور دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک **دعوتِ اِسلامي** د جدید ټیکنالوجۍ پۀ ذریعه هم د عِلمِ دِین

عام کولو کوشش کوي. د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې : ***Quran Al kareem***(القرآن الکریم ) دے. په دې ایپلي کیشن کښې ❁ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ❁ او د مختلفو قاریانو په اوازونو کښې د قرآنِ پاک اوریدلو سهولت موجود دے ❁ دې سره سره یو خاص سورت یا آیت ***Bookmark*** کیدے هم شي یعني بیا بیا لوستونکے سورت یا آیت د ***Bookmark*** کیدو سره په اسانۍ سره لوستلے کیدے شي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې تقریباً د 10 لاکهه نه زیاتو خلقو دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړے دے. تاسو هم دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ.

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي په ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په **مَدَني چینل** باندې **لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې په ورځ به هم د ماسخوتن د نمانځه نه پس (تقریباً په 8:15 بجې ) په مَدَني چینل باندې اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، په کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هم دعوت ورکړئ

❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه هره هفته د یوې **دِیني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د جنَّت په باره کښې خوندور معلومات** اعلان کولے شي. دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې

ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر **(*Share*)** کړي!
❁حضرت سخي سلطان باهو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د برصغير عظيم صوفي بزرګ او د عِلم او معرفت ځلنده نمر دے. د هغوئي ژوند د تقویٰ، زُهد، د **الله** پاک د عشق او د خدمتِ خلق نه عبارت دے. مکتبة المدينه د هغوئي په پاک سيرت باندې يو ډير جامع او ايمان تازه کوونکې رساله **فيضانِ سلطان باهو** چاپ کړې ده، هم نن دا رساله د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه په **30 روپۍ** په بيعه واخلئ! ځپله يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د ورځې په مناسبت سره مکتبة المدينه پيش کوي خصوصي **فيضانِ صِدِّيقِ اکبر** پيکج، په دې پيکج کښې شاملې دي: د 8 غټو او د 2 وړو رسالو سره سره يو پمفلټ، صرف په **200 روپۍ** يې د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه په بيعه واخلئ.

**صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدۡ اَحَبَّنِی وَمَنۡ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الۡجَنَّةِ** چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

[1]...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

# کم خوراک سُنَّت دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** کله چې بنده پهٔ خپل خوراک کښې کمے کوي نو د هغه سينه د نُور نه ډکولے شي. (1)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** کم خوراک سُنَّت دے. ❁ زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د لوږې نه کم خوراک کولو ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې تر څو پورې پهٔ دنيا کښې تشريف فرما وو، چرې يې هم پرله پسې 2 شپې پهٔ مړه ګيډه خوراک نه وو کړے ❁ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د لوږې پهٔ وجه پهٔ خِيټه مبارکه پسې کاڼي تړل.

**د خوراک د مِقدار پهٔ باره کښې احکام :** ❁ د لوږې ساتلو سره خوراک کول سُنَّت دي ❁ چې څومره لوږه وي، هغه همره خوړل مُبَاح دي (يعنې پهٔ دې کښې نه ګناه شته، نه ثواب) ❁ دومره پهٔ مړه ګِيډه خوړل چې د خيټې خرابيدو ګمان وي، حرام دي ❁دومره پهٔ مړه خيټه خوړل چې د خيټې خرابيدو انديښنه نه وي، مکروه دي ❁ پهٔ خوراک کښې دومره کمے راوستل چې پهٔ فرائضو ادا کولو کښې خنډ [يعنې رکاوټ] شي، جائز نه دي. (2)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د

---

1... جامع صغير، صفحه:35، حديث:469-

2... بهارِ شريعت، حصه:16، جلد:3، صفحه:374 ملخصًا-

سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اِسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| غم کے بادَل چَھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو |
| رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لا كه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

---

1... القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

---

1...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

3...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵